مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰۲۴/۰۴/۰۴

# د یهودو عادلانه جګړې
(شپږ ویشتمه برخه)



(د غزې ښځې او ماشومان په وینو او ویر کې)

### د یهودو پیغمبران او نبیان او د پیغمبرانو وژنې (۲)

### د یهودو ښځینه نبیانې

په تېره لیکنه کې د اسراییلو ښځینهوو نبیانو ته اشاره شوې وه، د یهودو په ښځینه نبیانو، (لکه د دوی په نارینه انبیاوو کې ځینې درواغویونکو نبیانو هم شتون درلود چې د جادوګریو او کوډو په کولو سره یې ځانونه د یهوه خدای نبیانې بللې خو یو شمېر نورې بیا رښتینې نبیانې بلل شوې دي چې په هغو کې د موسی او هارون خور (مریم) پیغمبره بلل شوې ده.
هغه مهال چې اسراییل د موسی په مشرۍ له (سره سیند) څخه پورې وتل او د فرعون لښکر په نوموړې سیند کې ډوب شو، نو موسی د یهوه خدای په ستاینه کې یوه دیني سندره وویله چې وروسته د هارون خور مریم پاڅیده او په ګډا شوه او خپله دیني سندره یې هم وویله، په دې تړاؤ د تورات د هجرت په کتاب کې راغلي دي چې وایي:«له دې سندرې [د موسی له سندرې] وروسته مریم د هارون خور چې پیغمبره وه، دریاګی واخیست او په نڅا یې پیل وکړ او نورې ښځې هم په ګډه شوې او مریم هغوی ته دا سندره واوروله:
**یهوه خدای په سندرو وستایئ چې په ویاړ سره بریالی شوی دی، ده د هغه [فرعون] آسونه او سپاره سیند ته غورځولي دي.»** (د هجرت کتاب:۱۵/۲۰-۲۱)
دا مریم هغه پیغمبره ده چې پر خپل ورور موسی یې نیوکه کړې وه چې ولې یې له غیریهودۍ ښځې صفورې سره چې حبشۍ وه، واده کړی دی او دا یې هم ویلي وو چې یهوه خدای یوازې د موسی په واسطه خبرې نه دي کړې بلکې زموږ په وسیله یې هم خبرې کړې دي. یهوه خدای د مریم پیغمبرې دا ډول ځرګندونو ته په قهر شو او سزا یې ورکړه:«یوه ورځ مریم او هارون، موسی له دې کبله چې ښځه یې حبشۍ ده ملامت کړ. هغوی وویل: **آیا یهوه خدای یوازې د موسی په وسیله خبرې کړې دي؟ بلکې زموږ په وسیله یې هم خبرې کړې دي.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يهوه خداى د دوى خبري واوريدي، نو ډېر ژر يې موسى، هارون او مريم د عبادت کېږدى ته وروغوښتل ويې ويل: دري واړه کسان دلته راشئ نو دوى د يهوه خداى پر وړاندې ودرېدل... دا مهال يهوه خداى په وريځ کې راکوز شو او د کېږدۍ د دروازې ترڅنګ ودريد ويې ويل: هارون او مريم دې وړاندې راشي. هغوى وړاندې ولاړل. يهوه خداى ورته وويل: **زه له يو نبي سره د خوب ليدلو په وسيله خبرې کوم** خو موسى چې زما خدمتکوونکى دى، په دې ډول خبرې نه کوم ځکه چې دى زما قوم ته په وفادارۍ سره خدمت کوي. زه له ده سره مخامخ او ښکاره خبرې کوم، نه په رمز، هغه زما ځلا ويني. څرنګه مو زړه کړى دى چې هغه ملامت کړئ؟

هغه وو چې د يهوه خداى قهر پر دوى کېناست او هغه له دوى څخه ولاړ. دا چې د عبادت له کېږدۍ څخه وريځ پورته شوه، **د مريمې وجود د جذام په ناروغۍ سپين واوښت.»** (د شمېر کتاب:۱/۱۲تر۱۰پورې)

د يهودو په ديني سرچينو کې د يوې بلې ښځينه پيغمبرې يادونه شوې، هغه مهال چې «د کنعان پاچا (يابين) لخوا پر اسراييلو شل کاله ظلمونه روان وو نو اسراييل يهوه خداى ته په زارۍ شول ترڅو مرسته ورسره وکړي. **هغه مهال د اسراييلو مشرې د (دبورې) په نوم يوې ښځې کوله چې د اسراييلو پيغمبره هم وه** ... دبورې يوه ورځ (باراق د ابينوعم) زوى ... راوغوښت ورته ويې ويل: د اسراييلو خداى يهوه تا ته امر کوي چې لسزره کسان د (نفتالي) او (زبولون) له قبايلو څخه چمتو کړه. د (تابور) غره ته يې وروله. يهوه خداى وايي: زه به د يابين پاچا قوماندان (سيسرا) د خپل ټول لښکر او ګاډيو سره د (قيشون) سيند غاړې ته راولم، ترڅو ته هغوى په هغه ځاى کې مات کړې.

باراق دبورې ته وويل: په دې شرط ځم چې ته له ما سره ولاړه شې. دبورې وويل: ډېر ښه، زه به ستا سره ولاړه شم خو پوه شه چې په دې جګړه کې به د برې وياړ ستا په برخه نه وي ځکه چې يهوه خداى سيسرا د يوې ښځې په لاس تسليموي.» (د قاضيانو کتاب:۳/۴تر۹پورې)

د سيسرا لښکر د اسراييلو په لښکر پسې ورځي نو دا مهال دبوره د اسراييلو د لښکر مشر باراق ته وايي: **«پورته شه چې يهوه خداى ستا پر وړاندې درومي،** نن هغه سيسرا تا ته تسليموي...» (هماغه کتاب:۱۴/۴)

هغه وو چې اسراييلي ځواکونه له کنعانيانو سره په جګړه ښکېل شول، د کنعان ځواکونو ماتې وکړه او قوماندان سيسرا وتښتيد او «د (حابر، قيني) ميرمن (ياعيل) کېږدى ته يې پنا يوړه ځکه چې د حاصور پاچا يابين او د حابر قبيلې تر منځ د دوستۍ اړيکو شتون درلود.

ياعيل سيسرا ته ښه راغلاست ووايه... سيسرا د ډېرې ستړيا له امله په ژور خوب ويده شو، دا مهال ياعيل د خپلې کېږدى يو مېخ او څټک واخيستل او غلې د هغه خواته ولاړه او مېخ يې د هغه په سر کې په څټک وواهه او د هغه سر يې له ځمکې سره وګانده او ځاى پر ځاى مړ شو.» (همغه کتاب:۱۷/۴-۲۱)

د سيسرا له وژلو وروسته د اسراييلو پيغمبرې دبورې او باراق په ګډه يوه اوږده مذهبي سندره چې (د دبورې او باراق سندره) يې بولي وويله چې په يوه برخه کې د ياعيل هغه ناځوانه عمل ستايي چې سيسرا يې د پنا وروړلو په حال کې په ټګۍ او ناځوانى سره وژلى ؤ:

**«د حابر، قيني پر ښځه ياعيل دې آفرين وي**
**له ټولو کېږدى مېشتو ښځو څخه دې لومړى يهوه خداى هغې ته برکت ورکړي**
**سيسرا اوبه وغوښتې خو ياعيل د پاچاهي په جام کې شيدې ورکړې**
**هغه مهال يې د کېږدۍ مېخ او څټک واخيست**
**او مېخ يې د هغې په سر کې ټکواهه، سر يې له ځمکې سره وګاندا شو**
**هغه د ياعيل پښو ته پرېوت او مړ شو.»** (همغه کتاب:۲۴/۴تر۲۷پورې)

د اسراييلو د درېيمې ښځينه پيغمبرې يادونه د پاچاهانو په دويم کتاب کې راغلې ده چې د اسراييلو د لومړي تبعيد پر مهال چې د دوى معبد هم وران شوى ؤ (او له تبعيد وروسته د بيا رغوني په حال کې ؤ) او دا مهال د اسراييلو د معبد لوى کاهن (حلقيا) د تورات کتاب په معبد کې موندلى ؤ او د اسراييلو د وخت پاچا (يوشيا) ته يې خبر ورکړ، نو پاچا نوموړي کاهن ته وويل چې له يهوه خداى څخه پوښتنه وکړي چې د هغه د رضا لپاره څه وکړي؟ هغه وو چې لوى کاهن «حلقيا او اخيقام، عکبور، شافان او عسايا د ځلدې (خُلده) په نوم ښځينه پيغمبرې ته ورغلل چې د اورشليم په دويمه محله کې اوسيدله... کله چې حلدې ته يې جريان ووايه نو حلدې هغوى ته وويل:**پاچا ته ورشئ او د اسراييلو خداى يهوه لخوا دا پيغام ورته ورسوئ:** څرنګه چې د تورات په کتاب کې مې ويلي دي او تا هغه لوستى دى چې په دې ښار به بلا نازلوم ځکه چې د يهودا اوسيدونکو زه پرېښودلى يم او هغوى بتپرست شوي دي، د خپلو کړنو له امله يې زما قهر پارولى دى نو زما د قهر اور چې د اورشليم پر ښار بل شوى دى سوړ به نه شي.

خو زه به ستا دعا قبوله کړم او دا بلا به ستا له مرګه وروسته دغې ځمکې ته ولېږم... .» (د پاچاهانو دويم کتاب:۱۴/۲۲تر۱۸پورې)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د یهودو نبي حزقیال د ښځینه انبیاوو په هکله د اسراییلو ځانګړي خدای یهوه لخوا څرګندونې کړي چې یهوه خدای، اسراییل څو ځلې خپل قوم یاد کړی چې د جادوګرو او دروغویونکو ښځینه انبیاوو له شره به یې ژغوري او د دا ډول ښځینه انبیاوو اغېز به له منځه وړي، یهوه خدای حزقیال نبي ته دنده سپاري وايي:
«ای خاورینه انسانه! **اوس زما کلام د هغو ښځو پر ضد بیان کړه چې خپل خیالات زما د پېغام پر ځای بیانوي.»**
یهوه خدای وویل چې هغوی ته داسې ووایه: دربغه چې تاسې زما قوم ګمراه کوئ، د دوی پر مټونو د کوډو او جادو [تعویذونه] ځړوئ او د کوډو پټکي پرې پلورئ ترڅو د نورو د ژوند واک په خپل لاس کې واخلئ، غواړئ چې زما د قوم د مرګ او ژوند واک په لاس کې ولرئ او خپل جیبونه ډک کړئ؟ د یو موټي اوربشو او څو شخونده ډوډۍ لپاره زما قوم له ما لرې کوئ. څوک چې باید ژوندي پاتې شي هغوی مړه کوئ او هغوی چې باید ژوندي پاتې نه شي، ژوندي ساتې، په دې توګه زما قوم ته درواغ وايي او هغوی هم باور دربانديې کوي.
نو زه ستاسو د سحر او جادو پر ضد یم چې په هغو باندې مو زما د قوم د وګړو ژوند په کوډو کې ښکېل کړی دی او د الوتونکو مرغانو په څېر مو په لومه (دام) کې اچولی دی، ستاسو کوډې به باطل کړم، دعاګانې به مو بې اغېزې کړم او خپل قوم به ستاسو له لومې خوشې کړم، ستاسو د کوډو پټکي به څیري کړم او خپل قوم به ستاسو له منګولو وژغورم.
هغوی به نور ستاسو په لومه کې بند پاتې نه شي، تر څو پوه شئ چې زه یهوه خدای یم.
تاسو په خپلو درواغو سره ښه خلک زما د خوښې پر خلاف زړهماتي او دردولي دي خو شرور وګړي هڅوئ، تاسې د دې سبب شوي یاست چې هغوی له خپلو ګناهونو توبه ونه کړي او سمې لارې ته رانه شي خو وروسته له دې به تاسو نور باطل خوبونه ونه وینئ او ګمراهکوونکي غیبویل به ونه کړای شئ ځکه چې زه خپل قوم ستاسو له واکه ژغورم، تر څو پوه شئ چې زه یهوه خدای یم.»

(د حزقیال کتاب:۱۷/۱۳تر۲۳پورې)

د اسراییلو خدای یهوه له نورو ښځو سره هم غرېدلی دی چې یوه بېلګه یې دا ده چې یهوه خدای (ایلیا) نبي ته وايي:«پاڅه د صرفې (صرفه) ښار ته ولاړ شه چې د صیدون ښار سره نږدې پروت دی. ولاړ شه او هلته ځایپرځای شه، **ما هلته یوې کونډې ښځې ته دنده سپارلې ده چې ستا لپاره خواړه تیار کړي.»** (د پاچاهانو لومړی کتاب:۱۷/۸-۹)



(د غزې مظلومې او بېوسه ښځې)

نېټه:۱۴۰۳/۱/۱۵ل. ل
**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اڅېر نوري لیکنی په دی لینک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ